# د هغو ماشومانو لپاره د انتظار د موديې په اړه معلومات، چې عمرونه يې له ۱۸ کالو ټيټ دي، د پناه غوښتنه يې کړې ده او په ناروې کې له مور او پلار پرته ژوند کوي

**د اوږې په اوږدو کې به کوم کسان د کډوالو د چارو د ادارې لخوا مرکې ته بلل کيږي او ځواب به ترلاسه کوي؟**

**سوريه**

د کډوالو د چارې ادارې (UDI) د سوريې د اتباعو او د سوريې د بې تابعيته اتباعو د پناه غوښتنې د غوښتنليکونو ارزونه تر نامعلومه مودې پورې ځنډولې ده. ګڼ شمير نور اروپايي هېوادونه هم ورته کار کوي.

د سوريې وضعيت لا هم نامعلوم دی، خو د کډوالو د چارو اداره وضعيت له نږدې څارې. کله چې د پناه غوښتنې د غوښتنليکونو ارزونه بيا پيل شي، تاسو ته به په دې هکله لا زيات معلومات درکړل شي.

ټول پناه غوښتونکي به د خپلو غوښتنليکونو ځواب ترلاسه کړي.

**لاندې معلومات پرته له سوريې د نورو ټولو هېوادونو لپاره د اعتبار وړ دي:**

مونږ به د سپتمبر تر مياشتې پورې:

- هغو کسانو ته ځوابونه ورکړو چې د پناه غوښتنې مرکه (انتروي) يې د ۲۰۲۴ کال او تر دې دمه د ۲۰۲۵ کال په جريان کې ترسره شوې وي.
- له هغو بې سرپرسته کوچنيانو سره به په دوامداره توګه مرکې ترسره شي چې، يوازې ناروې ته راغلي وي او د پناه غوښتنه کوي. که چيرې قضيه د دوبلين د تړون تر مقرراتو لاندې وي، ښايي څو مياشتې وخت ونيسي تر څو دا څرګنده شي چې آيا ستاسو د پناه غوښتنه به په ناروې کې ارزول کيږي او يا په هغه بل هېواد کې چې هلته مو د ګوتو نښې ثبت شوې دي.

که له مرکې وروسته نورو پلټنو ته اړتيا نه وي، نو ژر تر ژره به د قضيې په هکله پرېکړه وکړو.

## ولې ځینې کسان له ما څخه مخکې ځواب ترلاسه کوي؟

لومړی هغو کسانو ته ځواب ورکول کېږي چې دیر وخت یې انتظار کړی وي. د ځینو کسانو قضیې او له هغوی سره مرکه ترسره کول زیات وخت نیسي. که چیری تاسو باید د نورو کسانو په پرتله زیات وخت انتظار وکړئ، دا په دې معنی نه ده چې مونږ ستاسو قضیه هیره کړې ده.  لاندې ځینې لاملونه دي چې ولې د ځینو قضیو څېړل زیات وخت نیسي:

- که له مرکې وروسته ستاسو د قضیې په تړاو لا زیاتو څېړنو ته اړتیا وي، کېدای شي ځواب په ځنډ ترلاسه کړئ.
- که د کډوالو د چارو اداره (UDI) د دې ارزونه کوي چې ستاسو قضیه دې د دوبلین تړون په یو بل غړي هېواد کې وڅېړل شي، نو دا کار وخت ونیسي. په دې حالت کې ښایي تاسو د نورو په پرتله د مرکې لپاره زیات وخت انتظار وباسئ.

که چیرې له تاسو سره د نورو دلایلو له کبله مرکه نه وي شوې یا مو ځواب نه وي ترلاسه کړی، وکیل ته به مو د ځنډ په هکله خبر وکړل شي.

مونږ پوهېږو چې د اوږدې مودې انتظار کول ستونزمن دي؛ نو له همدې امله زیار باسو چې د پناه غوښتنې ټول غوښتنلیکونه ژر تر ژره وڅېړو.

تاسو اړتیا نلرئ چې د کډوالو د چارو له ادارې سره په دې هکله اړیکه ونیسئ چې قضیه مو څېړل شوې ده او که نه. مونږ ځواب ستاسو وکیل ته استوو.

## ایا زه داسې څه کولای شم چې د انتظار موده مې لنډه شي؟

تاسو کولای شئ د خپل هویت اسناد ژر تر ژره مونږ ته راوسپارئ.

- که د هویت اصلي اسناد ولرئ، باید د خپلې سیمې پولیسو ته یې وسپارئ. د اسنادو په سپارلو کې له خپل سرپرست څخه د مرستې غوښتنه کولای شئ.
- که د اسنادو فوتوکاپي یا عکسونه لرئ، مرکې ته یې له ځانه سره راوړئ او یا یې د کډوالو د چارو ادارې (UDI) ته په لاندې پته واستوئ:

Utlendingsdirektoratet (UDI), Postboks 2098 Vika, 0125 Oslo

په اسنادو کې د دوف (DUF) شمېره لیکل مه هیروئ. ستاسو سرپرست به په دې هکله له تاسو سره مرسته وکړي.

# د معلوماتو تازه کول

د انتظار د مودې په اړه معلومات د ۲۰۲۵ کال د جون د میاشتې له لومړی (۱) نېټې څخه اعتبار لري.

یاد معلومات به د ۲۰۲۵ کال د سپمتبر په لومړۍ (۱) نېټه او یا هغه مهال تازه شي چې د پام وړ بدلونونه پکې راشي.